مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

بارکوال میاخېل

۲۰۲۶/۰۶/۲۵

# یو اڅې کبـږي

په منځ کې د لېوانو دا یو تن یواځې کبږي
لاسونه ترې چاپېره کړئ وطن یواځې کبږي

پر لار که د رڼا د یزدان سم نیتونه وکړئ
بیا وګورئ چې څنګه اهریمن یواځې کبږي

د خاورې په ورغوي کې یې فال په وینو لیک دی
د خلکو د خوبونو انجمن یواځې کبږي

درځئ چې ارمانونو ته مو ساه د مینې ورکړو
بې روح د ازادۍ مو دی بدن یواځې کبږي

د ژوند له قافلو سره چې نه ځي تر منزله
هغه د جفا لارې به حتمن یواځې کبږي

د خپلو په محفل کې چې پردۍ سندرې اوري
یواځې دی شي یاره که دا نن یواځې کبږي

نه بیایم بارکواله! د یادونو ماشومان مې
د مینې د پسرلیو مې ګلشن یواځې کبږي

بارکوال میاخېل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ